# د نړۍ لويې و چې

د ځمکې د کُرې زياتره برخه اوبه نيولې ده او لږه برخه يې وچه ده. لويې وچې د براعظم په نوم يادېږي چې د هغوی شمير اوو ته رسېږي. لويې وچې له اروپا، آسيا؛ افريقا؛ قيانوسيه؛ شمالي امريکا؛ جنوبي امريکا او انتارکتيکا څخه عبارت دي.

## د اروپا وچه

د مساحت د زياتوالی له پلوه داروپا لويه وچه د نړۍ دويم له لويو وچو څخه ده او شاوخوا 50 هيوادونه په اروپا کې دي چې ځينې يې خورا لوی او ډيری يې کوچني دي.د نړۍ ترټولو لوی هيواد، روسيه، په اروپا او اسيا کې موقعيت لري.په اروپا کې نږدې 740 مليونه خلک ژوند کوي . ناروې په اروپا کې موقعيت لري. د اروپاوچه له آسيا څخه د مديترانه سمندرگی په واسطه بېله شوې ده. د بيلګې په توګه، د مديترانه په شاوخوا کې، هسپانيه، فرانسه، ايټاليا او ترکيه موقعيت لري. دلته د اوړي په موسم کې گرم دي، ډير وخت د حرارت درجه له 35 څخه تر 40 درجو پورې رسېږی.

## د اسيا لويه وچه

د نفوس او مساحت د زياتوالی له پلوه د اسيا لويه وچه د نړۍ له لويو وچو څخه ده. په آسيا کې ډير خلک ژوند کوي.په آسيا کې 4 ميلیارده وګړي ژوند کوي.په آسيا کې د ايوريست غر د 8848 متره ارتفاع په درلودو د بحر له سطحی څخه د نړی تر ټولو جګ غر دی .

## د افريقا وچه

دا وچه د لويوالې له پلوه د آسيا له وچې څخه وروسته دويم لويه وچه ده. په افريقا کې له يو ميلیارده زيات خلک ژوند کوي. په افريقا کې د 50 څخه زيات هيوادونه موقعيت لري. سوماليا په افريقا کې يو هيواد دی . د نړۍ تر ټولو اوږده سيند د افريقا له لارې تېرېږي چې د نيل په نوم يادېږي. دا د ډيرو هيوادونو له لارې تيرېږي. نيل مهمه ده ځکه چې انسانانو ته اوبه ورکوي .

## د اوقيانوسيه وچه

اوقيانوسيه تر ټولو کوچنۍ وچه ده. او قيانوسيه وچه له يو لوی ټاپو (استراليا) او يو شميرکوچنيو ټاپوګانو لکه نيوزی لينډ او کوچنيو ټاپوګانو څخه جوړې شوې ده.
په اوقيانوسيه کې 35 ميليونه خلک ژوند کوي. په نړۍ کې ډيری کوچنۍ هيوادونه په اوقيانوسيه کې موقعيت لري.آسټراليا په اوقيانوسيه کې ترټولو لوی هيواد دی. استراليا د نړۍ شپږم لوی هيواد دی،

مګر یوازې 23 میلیونه خلک په آسټرالیا کې ژوند کوي. په آسټرالیا کې، یو شمیر حیوانات لکه کانګورو او کوالا پیدا کېږي.

## دجنوبي امریکا وچه

په جنوبي امریکا کې، په 12 هیوادونو کې نږدې 390 میلیونه خلک ژوند کوي. برازیل په جنوبي امریکا کې ترټولو لوی هیواد دی. په جنوبي امریکا کې ځینې نور هیوادونه لکه ارجنتاین، چیلی، پیرو او وینزویلا موقعیت لري.

جنوبي امریکا د نړۍ ترټولو لوی بارانی ځنګل لري. دلته تل ګرمه ده. په دې بارانی ځنګل کې د نړۍ دوهم تر ټولو اوږد سیند دی چې امازون نومېږي.

## دشمالي امریکا وچه

شمالي امریکا کاناډا، متحده ایالاتو، مکسیکو او مرکزي امریکا ده. په شمالي امریکا کې شاوخوا 530 میلیونه خلک ژوند کوي.

شمالي امریکا دوه لوی هیوادونه لري: متحده ایاالت او کاناډا .

نیویارک په امریکا کې لوی ښار دی، مګر دا پلازمینه نه ده. پلازمېنې واشنګټن ډی سي دی. متحده ایاالت ډیر لوی ښارونه لري .

## انتارکتیکا (سویلي قطب)

انتارکتیکا دځمکې د کُرې یوه وچه ده چې په دې وچه کې شبږ میاشتې ورځ او شپږ میاشتې شپه وي. هوایې ډېره سړه ده او انسانان د تل لپاره هلته ژوند نشي کولای.

## سمندرونه

په نړۍ کې څلور لوی سمندرونه شته؛ چې د آرام سمندر( بحر الکاهل) د اطلس سمندر؛ د هند سمندر او د شمالی منجمد سمندر دی.